مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۶/۰۳

# غزل

تله ده ورانه، درانه سپک گورمه
د کلي کور مشران مو ورک گورمه

پښتانه تل د پنجابیانو ښکار دي
نیم په دام بند، نیم په تلک گورمه

چا چې د ننګ په نامه ننګ کړی دی
داسې فکرونه په توپک گورمه

احتجاجونه په تش لاس کومه
خو ستا زړګی له ویرې ډک گورمه

وخت دی بدل، فکرونه هم بدل دي
اوس پښتانه په پښتو کلک گورمه

یه پسرلېه! کربنې کله منم
د افغان خاوره تر اټک گورمه

مصطفی پسرلی
31/05/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ